# بیغوررهبران

هدفونه تری خطا شو له وطنه مونږ بهر شو
له بیغورو رهبرانو بی وطن خاوری پرسرشو
*****

پــه سـوریــوننوتی نــه وځــی لــه ډیــره ډاره
وطن سوزی سرو لمبو کی اولسونــه ناقــراره
هـاوعـدی، هـا شعـارونـه ، هـا دخلـکو امیدونــه
ټول یی سیند کی لاهوکړل پریښودخلکوته غمونه
ځنی کوموچی ژوندی دی دښنی لاسوټول نوکرشو
هد فونه تـری خطا شـو له وطــنه مونږ بهـر شــو
له بیـغورو رهبـرانو بی وطـن خاوری پـرسر شـو
*****

د شهــید و لــه مــزاره بــیرقــونه ښکــته کیږی
کنډی رنډی یی له کوره ټول په زوره ایستل کیږی
پښــی لوڅــی ، څـوی اولـور د ملـګرو شهیدانــو
وچ ډوډی تــه تــول حیـران ژاړی هغو یتیما نو
مونږ هغو له یا د ایستلی له یو سره کـور اوکر شو
هدفــونه تــری خطــا شو له وطــنه مونږ بهرشو
له بیغورو رهبرانو بی وطن خاوری پر سر شو
*****

دهغو دی تل نوم نیک وی چی یی اوس صدا نشته
تاریخ خپله قضاوت کا هیڅ حاجت د دوعا نشته
ځنی، ځنی هغو ډ لی چی د مړی پسی ژاړی
یا له عقله پردی شوی یا تیر شوی دوران غواړی
داشرارو سره یو شو مونږه ټول اوس پری خبرشو
هـدفـونه تـری خطـا شو له وطـنه مونږ بهر شو
له بیغـورو رهـبرانو بی وطن خاوری پر سرشو
*****

بربنډ ښکاری یی مخونه داشرارو په البم کی
خلک له پامه غورځولی ټول دخپتو دی په غم کی
د کمری په مخ ویښتان ږومنځوی ډیر په قراره
له تاریخـه نه ویـریـږی دغـه لویـه منـصبداره
مونږددغوبی غیریتو(مل)له لاس ټول درپه درشو
هدفونـه تـری خطا شو له وطنه مونږ بهـــرشو
له بیغورو رهبرانو بی وطن خاوری پرسر شو
*****

پوهندوی دوکتور سیدحسام(مل)
جرمنی ۲۰۱۰-۳-۱